AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۳/۰۷/۰۴

# د جمهوریت د سقوط عوامل
# د جنګسالارانو ونډه
(شپاړسمه برخه)




(د کابل د بالاحصار او ارګ انځورونه)

**تر ټولو ستر ورانوونکی، په سیاسي جامه کې، جنګسالار ډاکټر عبدالله، عبدالله (۹)**

**دوه پاچاهان، د کابل په بالاحصار او ارګ کې، تاریخي شالید**

لکه چې وايي:(په ډېرو قصابانو کې غوا مردارېږي) او دا هم ثابته شوې ده چې د ژوند په هر ډول شریکو چارو کې چې شریک خائین او غدار شي پایله یې ناکامي او تباهي ده چې بنه بېلګه یې د اشرف غني او عبدالله د ګډو حکومتونه او د عبدالله، جمهوریت ورانوونکي دریځ ؤ.
هغه مهال چې عبدالله د اشرف غني پر وړاندې موازي حکومت اعلان کړ، عبدالله په غونډه کې دا هم وویل چې د اجرائیه ریاست د لوړې مراسم به په یوه بله غونډه کې ترسره شي. د عبدالله دا ډول احمقانه کړنې چې له یو خوا موازي حکومت جوړوي او له بلې خوا اشرف غني په حکومت کې اجرائیه ریاست غواړي خلک حیران کړي وو.
خو دوه ورځې وروسته اشرف غني د یو ځانګړي فرمان له مخې د اجرائیه ریاست تشکیل لغوه کړ او امنیتي ځواکونو ته یې امر وکړ چې د اجرائیه ریاست ودانۍ ته د کار په موخه ولاړ نه شي.

د اجرائیه ریاست ویاند یې په غبرګون کې وویل چې اجرائیه ریاست په خپل ځای پاتې دی. د ولسمشر غني د فرمان پر بنسټ، په ننګرهار کې د والي ویاند عطاالله خوګیاني د اجرائیه رئیس انځور له دیواله ښکته کړ چې پر وړاندې یې د عبدالله کسانو د پنجشېر له دروازې د ولسمشر غني انځور راښکته کړ.

د ولسمشر غني او عبدالله په دواړو دورو واکمنیو کې د دوی تر منځ ډول، ډول نانذرۍ رواني وې، که له یوې خوا ولسمشر غني خپل واک په خپل لاس، سم نیم د عبدالله په ځبر یو نااهله کس ته ورکړی ؤ، له بلې خوا د هېواد د هر ډول ناخوالو مسؤلیت اشرف غني ته متوجه ؤ. عبدالله چې د حکومت نیمايي واک ترلاسه کړی ؤ، د هېواد پر وړاندي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يې مسؤليت نه احساساوه، د خلكو د هوسايني په موخه يې هيڅ ډول كار ترسره نه كړ، يوازې د خپل باند د شخصي ګټو لپاره يې هغه څه ترسره كول چې د هېواد په زيان تماميدل، عبدالله د ولسمشر پر وړاندې بې شمېره مزاحمتونه جوړ كړي وو، تر دې چې په غونډو كې د ولسمشر د مرستيال د ناستې څوكۍ غوښتنه يې هم كوله. په دې اړه د ولسمشرۍ ماڼۍ د عامه او ستراتيژيكو اړيكو پخوانى رييس، وحيد عمر ليكي:«په دې تل جنجال ؤ چې له جمهور رئيس وروسته د هېواد دويم نفر څوک دى. په همدې خاطر په ډېرى ناستو كې ډاكتر عبدالله ګډون كوي، امرالله صالح په كې غير حاضر وي.»

عبدالله د اشرف غني په ښو او اړينو چارو كې لكه د (مچ) ځان غورځاوه او كله چې اشرف غني بهرنيو هېوادونو ته سفرونه درلودل نو عبدالله به د (سپي مچ) په شان په اشرف غني پورې نښتى ؤ، د بهرنيو هېوادونو په غونډو كې اشرف غني ويناوې كولې خو عبدالله به د تش بوتل په څېر ناست ؤ او يا به يې د عادت له مخې څه نور مصرفيتونه درلودل، لكه چې وايي: **(تورې دې لالا وهي، مرى دې عبدالله وهي.)**

د اشرف غني او عبدالله په حكومتونو كې د حكومتي لوړپوړو چارواكو، په ځانګړي توګه د وزيرانو د ټاكنو پر سر سختې نانډرى رواني وې، عبدالله غوښتل په حكومت كې خپل غله ځاى پرځاى كړي خو اشرف غني يې مخ نيوى كاوه. ولسمشر غني د عبدالله لخوا كابينې ته پنځه نوماند وزيران، له دې امله ونه منل چې سياسي وزن، ورتيا او د خلكو استازيتوب نه شي كولى. (غبرګولى ۱۳۹۹ل.ل)

د عبدالله له نااهلو وزيرانو څخه (چې د جمهوريت په پرځولو كې يې لويه ونده درلودله) يو هم د جنرال بسم الله محمدي (پشكل) ټاكل وو، د كورنيو چارو وزارت چې په وېش كې عبدالله ته رسيدلى ؤ، عبدالله غوښتل جنرال بسم الله محمدي د كورنيو چارو د وزير په توګه وټاكي خو د ولسمشر لومړي مرستيال امرالله صالح، بسم الله محمدي د هغه د بې كفايتۍ له امله ونه مانه او پر وړاندې يې سخت مخالفت وكړ.«ټاكل شوي وه چې له كورنيو چارو وزارت څخه د جنرال مسعود اندرابي تر تللو وروسته، جنرال بسم الله خان د ډاكتر عبدالله په ونډه كې وزير شي. په كورنيو چارو وزارت كې د بسم الله خان مقرري تقريباً دوه اونۍ د لومړي مرستيال [امرالله صالح] د مخالفت له امله ځنډېدلې وه، تر دې چې بالاخره د دفاع وزير شو... دفاع وزارت ته د بسم الله خان په راتګ، پر امنيتي دستګاه د انحصار سيالي په درېيو ځايونو كې روانه وه؛ د لومړي مرستيال دفتر، د امنيت شورا دفتر او د دفاع وزارت. د دغو سياليو د كابو كولو لپاره له درېيو اونيو راهيسې امنيتي ناستې د سلامخانې ماڼۍ په الحاقيه كې پخپله د ولسمشر په مشرۍ كېږي او ټول په كې ګډون كوي.» (د جمهوريت ۷۲ وروستي ساعتونه؛ ارګ كې د درېيو وروستيو ورځو پېښو روايت. د وحيد عمر له ليكنې څخه)

د جنرال بسم الله محمدي د ټاكلو پر سر نانډريو نږدې يو كال وخت ونيو چې په پاى كې د ولسمشر غني له خوا د دفاع وزير په توګه وټاكل شو. د يادولو ده چې د جنرال بسم الله محمدي د ټاكلو په اړه د امريكا (يهود توكمه) ولسمشر جوبايډن له اشرف غني سره په ټيليفوني خبرو كې د جولاى په ۲۳مه نېټه هم يادونه كړې وه. (darivoa.co)

كه ربښتيا ووايو ولسمشر اشرف غني لكه څه ډول چې لازمه وه د مسلكي او وړ كدرونو په پېژندنه او غوراوي باندې نه پوهېده خو بيا هم تر خپله وسه يې د عبدالله په څېر مالوم الحاله فاسد جنګسالاران او نااهله كسان نه ټاكل.

په افغانستان كې د دا ډول دوو متضادو واكمنانو تر منځ د مخالفتونو لړۍ دوام درلود چې له امله د هېواد امنيتي وضع ورځ تر بلې مخ په ويجاړۍ روانه وه چې په پاى كې د جمهوريت بېړۍ چې اشرف غني او عبدالله په كې ناست وو، ډوبه شوه او دواړه په كې غرق شول.

وايي چې **«دوه تورې په يوه تېكه او دوه واكمنان په يوه ښار كې نه ځايېږي»** دا په هندوستان كې د پښتون سوري پاچا شېر شاه د خولې خبرې دي چې خپل وررور سليمان ته يې په واک كې د نه شريكولو په اړه كړې وې او له دې وړاندې په هندوستان كې يو بل پښتون پاچا سلطان ابراهيم هم د خپل وررور جلال خان چې په واک كې يې شريک كړى ؤ او بيا پېښمان ؤ، ويلي وو چې دوه تورې په يوه تېكه كې نه ځايېږي او په اړه يې دا شعر هم ويلى دى:

**دو جان هر گز به یک پیکر نه گنجد**

**دو فرمانده بـه یک کشور نه گنجد** (1)

---

1 ـ عبدالله: داؤدي تاريخ. ژباړن: محقق ډاكتر عبداللطيف ياد طالبي. ۱۴۴- ۱۸۲مخونه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

هغه مهال چې موږ د اشرف غني او عبدالله دوه سري حکومت کړني په خواشینۍ سره څارلي نو په تړاو مو یوه پرتلیزه لیکنه ولیکله چې سرلیک یې ؤ: **دوه پاچاهان، د کابل په بالاحصار او ارګ کې (تاریخي شالید)** چې د نوموړي لیکنې ځیني برخې راخلو:

په ۱۸۱۸ز، کال کې، هغه مهال چې د تیمورشاه زوی شاه محمود، خپل لوی وزیر فتح خان، ړوند او بیا یې په کړاو او بې رحمۍ سره وواژه، نو د وزیر فتح خان (۲۱) ورونه چې یو شمېر یې د لوی افغانستان په ځینو ولایتونو کې والیان وو، د خپل ورور د مرګ د غچ اخیستلو په موخه، د کابل پر لور وخوځېدل چې له دوی څخه یو هم سردارمحمدعظیم خان چې د کشمیر والي ؤ، کابل ته یې خپل ورور سردار دوست محمدخان ولیږه، دوست محمدخان چې پېښور ته راورسید، په پېښور کې یې د تیمورشاه یو زوی، شهزاده ایوب چې یو کمزوری شهزاده ؤ، د افغانستان د پاچا په توګه ونوماوه. دوست محمد خان چې کله کابل ته ورسید، د شاه محمود له لمسي، جهانګیر څخه چې د کابل حاکم ؤ، د هغه له مرستیال، عطامحمدخان سره په یو پټ جوړجاړي کې کابل ونیو. سردار دوست محمدخان په کابل کې د تیمورشاه یو بل زوی، شهزاده سلطان علي چې هغه هم د شهزاده ایوب په شان کمزوری او نوم ورکی شهزاده ؤ، د دوهم پاچا په توګه اعلان او ځان یې د هغه لوی وزیر کړ. (میرغلام محمد غبار: افغانستان در مسیر تاریخ ، ۵۱۰ مخ)

لږه موده وروسته، سردار محمدعظیم خان له کشمیره پېښور ته راغی او بیا له [ایوب شاه سره یو ځای] کابل ته راورسید، نوموړي، د کابل په بالاحصار کې د ځان لخوا ایوب شاه، د پاچا په توګه ونوماوه. (احمدعلي کهزاد: افغان میرني او تاریخي پېښې، ۵۹،مخ)

دغه دوه سدوزي پاچاهان چې دواړه ورونه وو، د دوو محمدزیو ورونو لاس پوځي او د کابل په بالاحصار کې په دوو ودانیو کې څنګ په څنګ اوسیدل، دواړه ورونه تش په نوم پاچاهان وو، څه واک او اختیار یې نه درلود، ریښتینی واک او لښکر له دوست محمدخان او محمدعظیم خان سره ؤ، دغه دوه پاچاهان یوازې یو بل ته د دسیسو په جوړولو لګیا وو، دوست محمدخان چې د سلطان علیشاه  لوی وزیر ؤ، د شاه محمود او د هغه له زوی کامران سره په غزني کې په جګړو لګیا ؤ، د کابل په بالاحصار کې د دغو دوو تنو سدوزیو پاچاهانو او دوو تنو محمدزیو سردارانو تر منځ د واک پر سر ډول، ډول پټې او ښکاره ناندرۍ او توطیې رواني وې، تر څو له دې لارې وکړای شي یو تن له منځه وباسي چې له امله یې د هېواد اداره او خاورې ساتنه ورڅخه پاتې وه چې د اشرف غني او عبدالله په څېر، د دوه سري حکومت له امله د لوی افغانستان ختیځې سیمې سېکانو لاندې کړې.

یو کال وروسته په (۱۸۱۹،ز) کې سلطان علیشاه د محمدعظیم خان لخوا د پاچاهۍ څخه لیرې کړای شو او دوست محمدخان یې هم له وزارته وشاړه، سردارمحمدعظیم خان له ایوب شاه سره ژمنه کړې وه چې که خپل رقیب پاچا، له منځه یوسي نو دی به هم خپل ورور، دوست محمدخان ووژني، په دې بنسټ د سلطان علي شاه د وژلو لپاره د ایوب شاه زوی اسماعیل، د شپې په وروستنۍ برخه کې د سلطان علیشاه د

خوب کوټې ته ولاړ او خپل کاکا او د پلار رقیب پاچا یې وواژه... خو سردار عظیم خان، د ایوب شاه د ټینګار سره، سره خپل ورور دوست محمدخان مړ نه کړ. (هماغه کتاب. ۴۰۶مخ)

په پای کې ایوب شاه د محمدزیو سردارانو، پردل خان او مهردل خان لخوا د کابل په بالاحصار کې اسیر او زوی یې اسماعیل ووژل شو... له ایوب شاه څخه یې د پاچاهۍ کالي وایستل او زاړه کالي یې ور واغوستل، د کابل په کوڅو کې یې وګرځاوه او د خلکو پر وړاندې یې مسخره کړ، وروسته د رشوت په بدل کې، له بنده خوشی شو او د سېکانو پنجابي حکومت ته ورتسلیم شو. (هماغه کتاب.۴۱۲ مخ)

د کابل په بالاحصار کې د سدوزیو غبرګو پاچاهانو له منځه تللو وروسته، لوی افغانستان د محمدزیو ورونو په منځ کې ووېشل شو... کله چې د افغانستان بهرنیو دښمنانو (سېکانو او انګریزانو) په افغانستان کې دا ډول ناوړه حالت ولید، نو د پنجاب حکومت، د سېکانو مشر رنجیت سنګ چې د انګریزانو لخوا یې ملاتړ کیده، ورو، ورو یې د اټک، پېښور او کشمیر سیمې، د ملتان په شان له افغانستان څخه جدا کړې او په پنجاب پورې یې وتړلې. (افغانستان در مسیر تاریخ ، ۵۱۰ مخ)

محمدزیو سردارانو د خپل منځي مخالفتونو له کبله، ونه شول کولی، تر شلو کلونو پورې په هیواد کې یو واحد او ځواکمن حکومت جوړ کړی چې له کبله یې تر نن ورځې پورې د افغانستان ملت کړېږي.

پورته تاریخي واقعیت چې نږدې دوه سوه کاله پخوا تېر شوی دی، د نني ملي وحدت (!) حکومت له مشرانو، ښاغلي اشرف غني او عبدالله، عبدالله، سره، په لنډه توګه پرتله کوو.(۱۸۱۸،ز= ۱۱۹۷،ل،ل)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ـ په کال(۱۸۱۸،ز) کې سردار دوست محمدخان او سردارمحمدعظیم خان د کابل په بالاحصار کې دوه تنه سدوزي شهزاده ګان، د پاچاهانو په توګه وټاکل خو پوره (۱۹۶) کاله وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر، جان کیري د کابل په ارګ کې دوه تنه هر یو اشرف غني او عبدالله د واکمنانو (پاچاهانو) په توګه وټاکل.
ـ د کابل په بالاحصار کې، دواړه سدوزي پاچاهان، په دوه جدا، جدا ودانیو کې اوسیدل، د یو بل پر وړاندې یې دسیسې جوړولې او د یو بل د کار مخه یې نیوله.
د کابل په ارګ کې اشرف غني او عبدالله په دوه جدا، جدا ودانیو(ګلخانی او سپیدار) مانیو کې اوسیږي او د یو بل د کار مخه نیسي، په ځانګړي توګه عبدالله د اشرف غني د کړنو پر وړاندې لوی خنډ دی.
ـ له سپکانو سره د انګریزانو لخوا مرستې کیدلې او د افغانستان پر ضد یې استعمالول، د انګریزانو په دستور یې د ایوب شاه او سلطان علي شاه، له خپل منځي اختلافاتو ګټه پورته کړه، د لوی افغانستان خاوره یې ورو په ورو لاندې کړه... خو نن ورځ، وروسته له دوه پیړیو د طالبانو تحریک د ... .
ـ سپکانو د سدوزیو پاچاهانو د بې اتفاقیو په نتیجه کې د افغانستان خاوره لاندې کړه خو طالبان د اشرف غني او عبدالله له اختلافاتو ګټه پورته کوي، ورځ تر بلې مخ پر وړاندې درومي، ولسوالی نیسي، د ولایتونو مرکزونه تر فشار لاندې راولي او په یوه برید کې په سلګونو پوځیان له منځه وړي.
که حالت په دې ډول روان وي چې د ارګ پاچاهان(!) د چارواکو په مقرریو باندې نه سره جوړیږي او طالبانو ته ... [بهرنیان] مرستې ورکوي، **په پای کې به د ارګ دواړه پاچاهان! د سدوزو پاچاهانو په شان، په شرمو وشرمیږي او له منځه به ولاړ شي** ... . (۱۳۹۶/۲/۳،ل،ل)
ومو لیدل چې د اشرف غني او عبدالله د ملي نفاق حکومت چې د امریکایانو په لاس جوړ شوی ؤ، د ماشومانو د شګو کوټو په څېر وران شو، عبدالله او اشرف غني د سدوزیو پاچاهانو په څېر چې د بل په متو راغلي وو له منځه ولاړل او تاریخي بدنامي او ناکامي ورترغاړه شوه.

نېټه:۱۴۰۲/۴/۱۳ل. ل
**نور بیا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ